- زموږ د معاینې پروګرامونه د هغو کسانو لپاره دي چې د سرطان یا رتینوپتي (د سترګو ناروغي) نښې نښانې نلري.
- ځینې خلک کېدای شي د منظمو معایناتو تر څنګ بیا هم په سرطان یا رتینوپاتي اخته شي. معاینه ټول سرطانونه یا رتینوپاتي نه تشخیصوي. سرطان کېدای شي چې د معایناتو تر منځ را منځته شي (انټروال سرطانونه).
- که چېرته تاسو د خپلې لیدنې لپاره اضافي ملاتړ ته اړتیا لرئ، زموږ د لاسرسي له افسرانو سره اړیکه ونیسئ. جزئیات د پروګرام پر لاندې وېب سایټ موجود دي.

## BreastCheck

An Clár Náisiúnta Scagthástála Cíoch
The National Breast Screening Programme

- غوره معاینه مرسته کوي تر څو سرطان په لومړي پړاو کې هغه وخت تشخیص کړي چې خلکو لا نښې نښانې نه وي څرګندې کړې. که چېرته ژر وموندل شي، درملنه یې اسانېږي او تاسو د رغېدو ښه چانس لرئ.
- د سینې معاینه د هغو مېرمنو لپاره ده چې عمر یې د 50 او 69 کلونو تر منځ وي. ستاسو لومړنۍ بلنه په دې پورې اړه لري چې ستاسو په ساحه کې معاینه کله د لاسرسي وړ ده. دا چې د کووېډ-19 له امله ځنډ راغلی دی، کېدای شي تاسو په 53 کلنۍ کې خپله لومړنۍ بلنه ترلاسه کړئ.
- د سینې معاینه په BreastCheck کلینیک یا د معاینې په یوه ګرځنده واحد کې ترسره کېږي. دغه واحدونه د آیرلنډ بېلا بېلو برخو ته ځي.
- موږ د سینې د معاینې پر مهال موږ ستاسو د سینې یوه اېکسرې اخلو (چې ماموګرام یې بولي). دا د سینې سرطان ګوري، په داسې حال کې چې هغه ډېر کوچنی دی چې ولیدل شي یا حس شي.
- د سینې معاینه هر سرطان نه تشخیصوي. مګر دا د سینې د سرطان د جدي پایلو شمېر را کموي.
- تاسو کولای شئ خپله سینه پخپله وګورئ تر څو پوه شئ چې ستاسو د سینې لپاره څه شی نارمل دي. که چېرته تاسو د سینې د سرطان هر راز غیرعادي بدلونونه احساس کړل، په کومه سینه کې د غوټې په ګډون، ژر تر ژره له خپل عمومي معالج سره اړیکه ونیسئ. د خپلې راتلونکې معاینې ټست ته مه په تمه کېږئ.
- زموږ د سینې د معاینې آنلاین راجستر وګورئ، اپډېټ یې کړئ یا ورسره یو ځای ئ یا نور معلومات ترلاسه کړئ:

وړیا ټلیفون: **1800 45 45 55**
برېښنالیک: **info@breastcheck.ie**
وېب سایټ: **hse.ie/breastcheck**

## CervicalCheck

AN CLÁR NÁISIÚNTA SCAGTHÁSTÁLA CEIRBHEACS
THE NATIONAL CERVICAL SCREENING PROGRAMME

- د رحم د خولې معاینه د HPV (انساني پاپیلوما وېروس) لپاره ټست په وسیله، مرسته کوي تر څو په انسانانو کې سرطان ژر تشخیص شي.
- CervicalCheck په هرو درې کلونو کې د هغو ښځو او کسانو لپاره د رحم د خولې وړیا HPV معاینې وړاندې کوي چې رحم لري او عمرونه یې له 25 څخه تر 29 کلونو پورې وي. دا له 30 څخه تر 65 کلنو کسانو لپاره په هرو پنځه کلونو کې یو ځل وړاندې کېږي.
- موږ به تاسو ته بلنه در واستوو او تاسو کولای شئ کوم عمومي معالج یا داسې کلینیک ته مراجعه وکړئ چې له CervicalCheck سره راجستر وي.
- که تاسو کوم تعقیب ته اړتیا لرئ، موږ به خبر درکړو.
- په منظم ډول د رحم د خولې په معایناتو کې ګډون کول، که مستحق یاست د HPV واکسین ترلاسه کول او د غیرعادي حجرو لپاره پر وخت سره درملنه کولای شي ستاسو د رحم د سرطان خطر را کم کړي.
- که چېرته تاسو د رحم د خولې د سرطان نښې نښانې لرئ، خپلې راتلونکې د معاینې ټست ته مه تمه کېږئ.
- نښې نښانې یې کېدای شي غیرعادي وینه بهېدنه یا ستاسو په لګن کې درد وي. ژر تر ژره له خپل عمومي معالج سره اړیکه ونیسئ.
- زموږ آنلاین راجستر وګورئ تر څو معلومه کړئ چې ستاسو د راتلونکې معاینې وخت کله دی یا خپل د اړیکې جزئیات اپډېټ کړئ.
- له CervicalCheck سره د ځان راجستر کولو یا نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره:

وړیا ټلیفون: **1800 45 45 55**
برېښنالیک: **info@cervicalcheck.ie**
وېب سایټ: **hse.ie/cervicalcheck**

## BowelScreen

An Clár Náisiúnta Scagthástála Putóige
The National Bowel Screening Programme

- د کولمو معاینه په خلکو کې د نښو نښانو له را څرګندېدو څخه د مخه په لومړي پړاو کې د سرطان د نښو د موندلو لپاره ترسره کېږي.
- BowelScreen په هرو دوه کلونو کې هغو کسانو ته په کور کې د معاینې ترسره کولو وړیا ټست ورکوي چې عمرونه یې له 59 تر 69 کلونو پورې وي.
- که چېرته ژر وموندل شي، درملنه یې اسانېږي او تاسو د رغېدو ښه چانس لرئ.
- موږ به تاسو ته یوه بلنه در واستوو. که تاسو غواړئ برخه واخلئ، موږ به تاسو ته په کور کې د معاینې ترسره کولو کېټ در واستوو. ټست په اسانۍ سره ترسره کېږي او یوازې یو څو دقیقې نیسي. د ټست کېټ په تشناب کې درسره وساتئ تر څو بل ځل چې ورځئ درسره ویې لرئ. د خپلو مدفوع یوه بېلګه (ډکو بولو بېلګه) واخلئ او په وړیا پوسټ یې موږ ته را واستوئ.
- که تاسو تعقیبي ټستونو ته اړتیا لرئ، موږ به تاسو ته ووایو.
- که تاسو د کولمو د سرطان نښې نښانې لرئ، خپل راتلونکې معاینې ته مه په تمه کېږئ.
- په نښو نښانو کې یې کېدای شي ستاسو د بولو په عادتونو کې بدلون، په بولو کې وینه یا د معدې درد شامل وي. ژر تر ژره له خپل عمومي معالج سره اړیکه ونیسئ.
- له BowelScreen سره د راجستر کېدو یا نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره:

وړیا ټلیفون: **1800 45 45 55**
برېښنالیک: **info@bowelscreen.ie**
وېب سایټ: **hse.ie/bowelscreen**

## Diabetic RetinaScreen

An Clár Náisiúnta Scagthástála Reitiní do Dhiaibéitigh
The National Diabetic Retinal Screening Programme

- د دیابت RetinaScreen موخه په هغو کسانو کې د ریتینوپاتي په نوم د سترګو د یوې نارغۍ تشخیص او درملنه ده چې 1 ا و 2 ډوله دیابت لري.
- کله چې ریتینوپاتي ژر تشخیص شي، درملنه یې کولای شي ستاسو د سترګو د لید د خرابېدو مخنیو وکړي یا یې را کم کړي.
- د دیابت RetinaScreen د هغو کسانو لپاره وړیا دی چې عمرونه یې له 12 کلونو څخه لوړ دي او په دیابت اخته دي، همدارنګه که تاسو درملنې ته اړتیا لرئ، هم ستاسو لپاره وړیا دی.

  موږ هر کال معاینات وړاندې کوو. که مو دوه کاله په پرلپسې توګه معاینې وښودله چې رېتینوپاتي نلرئ، موږ به په هرو 2 کلونو کې معاینه درته وکړو.
- د سترګې د شبکیې د معاینې پر مهال به موږ ستاسو په سترګو کې څاڅکي واچوو او د ریتینوپاتي د معاینې لپاره به له ډیجیټلي فوتوګرافۍ څخه استفاده وکړو. موږ د هېواد په کچه له 100 څخه ډېر د معاینې مرکزونه لرو.
- ستاسو عمومي معالج یا د روغتیایي پاملرنې متخصص کولای شي تاسو معاینې ته راجع کړي. تاسو همدارنګه د خپل ځان راجستر کولو یو انلاین فورم هم بشپړ کړئ.
- هغه ښځې چې مېندوارې دي یا دیابت لري لا ډېرو منظمو معایناتو ته اړتیا لري. ستاسو د ولادي برخې ټیم کولای شي تاسو راجستر کړي.
- که تاسو په خپل لید کې تغییرات حس کړل یا د خپلو سترګو په اړه کومه اندېښنه لرئ، له خپل عمومي معالج، اوپټېشن یا د سترګو له ډاکټر سره ژر تر ژره اړیکه ونیسئ. خپلې راتلونکې معاینې ته مه په تمه کېږئ.
- د دیابت له RetinaScreen سره د راجستر کولو یا نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره:

وړیا ټلیفون: **1800 45 45 55**
برېښنالیک: **info@diabeticretinascreen.ie**
وېب سایټ: **hse.ie/diabeticretinascreen**

NSS/PUB/COM-35 Rev 1